النبأ

كيف تقاتل تحت أعين الطائرات الصليبية؟

# د صليبي طيارو ترسترګو لاندې څنګه وجنګيږې؟

پښتو ژباړه



# د صلیبي طیارو ترسترګو لاندې څنګه وجنګیږې؟

بسم الله الرحمن الرحيم

د جنګ په حالاتو کې مونږ داسې حالات او ښکلې صحنې ګورو چې بغیر له جنګ څخه داسې حالاتو او صحنو لیدل ممکن نه وي، د انغماسي عملیاتو څخه د بیرته راګرځېدونکی مجاهد د مخ لیدلو صحنه، او په ګردونو پوښل شوي مخ باندې د هغه د ستړیا نه ډکه موسکا، د شهید- لکه څنګه چې مونږ وربانديې ګومان کوو - د موسکانه ډکه خوله چې د آسمان په لور یې سترګې نیولې وي، او هغه صحنه چې د لرې ځایه د دښمن قطار(کاروان) په ډیر غرور او شان او شوکت سره ستا د هغه خښ کړل شوي ماین په طرف را روان وي چې ته ورته په لاره کې د انتظار شیبې شمارې، او هغه صحنه چې د انفجار نه وروسته د آسمان فضاء د بې پیلوټه الوتکو څخه ډکه شوې وي، او د انفجار هغه خوږغږ چې د ښکلې حادثې د لیدلو نه همیشه لږ وروسته ستا غوږونو ته را رسیږي. دا ستر د انفجار غږ چې لږ وروسته ستا غوږونو ته رسي خستګي نه پیژني.

د هغو ښکلو صحنو څخه یوه دا هم ده چې دښمن ستا خاړنه کوي لکه د لیوني غوندې درپسې لالهانده ګرځي او ته ورته پټ ناست وي او د دښمن د غفلت لحظه څارې ترڅو ګرد ورڅخه پورته کړې( ویې ولې) او دی په هرځای کې ستا پلټنه کوي خو هیڅ هم په لاس نه ورځي.

رېښتیا چې د دښمن په پوځ باندې هغه صحنه ترټولو ډېره سخته وي چې نه پوهیږي چې اوس کوم ځای وولو، او دا مجاهد چیرته تری تم دی چې مونږ ولي.

دي تولو حالاتو ته هغه وخت مونږ رسیدلای شو چې مونږ د داسې نویو ګرنچارو څخه استفاده وکړو چې هغه سره دښمن بلکل نا آشنا وي او د هرې هغې ګرنچارې څخه ځان وساتو چې هغه مخکې یوځل ناکامه شوې وي، نو ضروري خبره داده چې همیش مونږ په دې فکر کې واوسو چې کومه نوې ګرنلاره په کار واچوو او د کامیابو جنګي تجربو څخه استفاده وکړو.

## د جنګ لمړنی مرحلې

څو کاله مخکې د شام په ځمکه کې مونږ د چیرکي جنګونو په شکل کې جګړه شروع کړه، پدې جنګونو کې به تمرکز په دې خبره کیده چې ناڅاپه او نا ببره دښمن څنګه ووهل شي، پداسې حال کې چې د مجاهدینو کوم معلوم مرکز نه وي ، او دښمن به هم په خپل غلیم پسې ګرځیده خوهیڅ به هم په لاس نه ورتلل، سره د دې چې دښمن ته به زیات درانده مالي او ځاني تلفات هم اوښتي وو.

وروسته له دې چې ځمکه د نصريانو او د دوی د ملګرو د مردارۍ څخه پاکه شوه او جغرافيوي فاصله د دښمن سره ايجاد شوه ، بيا نو د هغو چيريکي جنګونو څخه چې هغي کې به تمرکز په پټوالي او ناڅاپي بريدونو باندې کيده د جنګ طريقې تغير وکړ په داسې ډول سره چې بيا به د دښمن سره د مخامخ جنګ او د اول خط تثبيتول او د مجاهدينو مرکزونه جوړولو ته پکې توجه کيده. پدې مرحله کې په تدريج سره د مجاهدينو د ځاني تلفاتو او وينې تويېدل زياتيدل ځکه چې د دښمن سره ډير پراخ امکانات او وسائل موجود وو.

او بيا کله چې د عين الاسلام جنګونه شروع شول نو مونږ همداشان ډيره موده د نصيريانو او مرتدينو سره په همدې طريقه جنګ په مخ بيولو، نو پدې وخت کې هم زمونږ د جنګ طريقه همغه پخوانۍ طريقه وه چې د نصيريانو سره به مو کاروله. چې د موټرونو بيروبار، درندې ، او متوسطې اسلحې به مو کارولې خو تردې وخته پورې امريکايي طيارو کومه د پام وړ مداخله نه کوله. خو ورځې نه وې تيرې شوې چې بې پيلوټه الوتکو د مجاهدينو مرکزونه د عين الاسلام په اطرافو او څنډو کې تر هدف لاندې راوستل، نو طيارې شروع شوې خپل اوروونه او سکروټې يې د مجاهدينو په مهماتو او بيا وروسته د مجاهدينو په اولو خطونو او لوخو مرکزونو باندې اورول شروع کړل، لا حول ولا قوة الا بالله العظيم. نو په دې اخيرنی صليبي جګړه کې مجاهدينو ته تلفات واوښتل، چې اکثريت د دې د جنګ په اصولو کې د لوی تغير او تبديلی له وجې را منځ ته شول هغه هله چې کله د صليبيانو دې پرمختللیو طائرو په جګړه کې ګډون وکړ، هغه که په شام کې وو او که په عراق کې او که په نورو ولايتونو کې وو.

## د دوی د کړنو لمړنی ځواب

مجاهدين د دې مرحلې نه وروسته لاس په کار شول او په جنګی تکتيکونو کې يې ترقي راوستله نو دوی هم د خپلو اسلحو ، سورليو، او شوبلو(ټانګونو) يو ډول ستر او اخفاء شروع کړه ، د دوی د حرکت او د هغوی څخه د استفادې په وخت کې به يې ستر او اخفاء کوله اګر که دا کار لکه څومره چې تمه وه هغومره مؤثر نه وو خو بيا هم الحمدلله تاوانونه يې ډير را کم کړل، همدا راز مجاهدينو کوشش کولو ترڅو نوې طريقې را منځ ته کړي تر څو دوی وتوانيږي چې د صليبي طيارو په موجوديت کې هم وجنګيږي، بعضې جنګي ډلګيو پدې طريقو باندې ښه ماهر شول خو بعضې بيا لکه څنګه چې مناسب وه داسې ښه نه وو روزل شوي.

مونږ د مقالو دا سلسله د الله په مرسته باندې د دې په خاطر ليکو چې د اسلامي دولت مجاهدين په بعضو هغو نويو طريقو باندې پوه کړل شي، کومې چې دښمن يې د مجاهدينو په خلاف باندې کاروي او همدا راز

بعضي هغه طریقې چې مجاهدین یې کاروي او د دښمن سره په جنګ کې د طیارو په موجودیت کې کټورې ثابتې شوې دي. بلکې بعضې تک لارې خو داسې دي چې په دې وروستیو وختونو کې د بعضو عسکري متخصصینو له خوا تجربه شوې دي او دا یې یقینا ثابته کړې ده چې سره د دې چې د صلیبیانو طیارې په هدف ویشتلو کې ډیرې دقیقې هم دي، خو بیا هم دا تک لارې داسې دي چې د دوی دا دقت کمزورې کوي تر دې چې د دوی جنګي قدرت له ماتې سره مخ کوي او دا هم ممکن ده چې دا تکلارې د الله په توفیق سره په خپله د دوی د جنګیالیو په دام کې واقع کیدلو سبب شي.

## د جنګي تګلارو د انکشاف حتمیوالی

الله تعالی هیڅ مرض بې دوا نه دی پیدا کړی، نو خوک یې چې دوا پیژني هغه یې پیژني او چې خوک یې نه پیژني هغه یې نه پیژني، هغه څه چې دښمن ترې ډاریږي د دوی د طیارو خنثی کول او د جنګ له ساحې ایستل دي، نو دا باید د هر هوښیار مجاهد کوشش او هاند وي . په اسمان کې د دوی د طیارو خنثی کولو دپاره مونږ ته دا اړینه ده چې اول مونږ باید د دښمن له خوا د دې طیارو څخه د استفادې څرنګوالی وپیژنو، بیا دوهم قدم کې چې کوم نوی جنګي تغیر د دوی د کړنو سره مناسب وي هغه اختیار کړل شي، د دښمن سره د جنګي تګلارو رامنځ ته کول ډیر لوړ فکري ارتجاعیت ته ضرورت لري، او دې ته اړتیا ده چې مخکینې منل شوي جنګي اصول (مسلمات) او تقلیدي کړنې پریږدي، او ددې کار محور تول په اجتهاد باندې څرخي. شرعي نصوص او عبارات مونږ په کوم خاص جنګي پلان باندې نه مجبوروي او نه مو هم د کومې خاص اسلحې په استعمال باندې مجبوروي بلکې دا کار اصلا هغه چاته پریښودل شوی چې د اجتهاد اهلیت ولري .

کله چې مجاهدینو د عین الاسلام د جنګونو په وروستیو کې د خپلو توپونو او موټرو په ستر او اخفاء کې کوشش شروع کړ، نو دښمن هم لګیا شو خپل جنګي تکتیک یې تغیر کړ ترڅو دوی خپل د طیارو مؤثریت همداسې محفوظ وساتي، هغه طیارې چې تقریبا د دښمن یوازینی هغه سلاح ده چې په دې اخیرنی صلیبي جګړه کې پوره فعاله ده، نو دوی هم په آسمان کې د طیارو تعداد زیات کړ ترڅو دوی د حرارتي دوربینونو په مټ سره وکولای شي د اسلحو ځایونه د هغوی د کارونې په وخت کې تثبیت کړي، کله چې یو توپ فیر کوي نو د هغه موقعیت په آسانی سره مشخص کیدلای شی ، بیا د هغې د ځای د تشخیص نه وروسته یې د ویشتلو نوبت راځي، پدې وختونو کې به مجاهدین د ودانیو په بامونو باندې ویده کیدل او دوی په دې نه پوهیدل چې دښمن د دوی او د دوی

اسلحو حرارتي عکسونه اخلي، نو پدې وخت کې هم د ډېرو تلفاتو بنيادي علت دا وو چې دوی د صليبيانو د طيارو په کړنچاره نه پوهيدل چې د دوی د طيارو څومره امکانات شته.

## د دښمن د امکاناتو څخه ځان پوهول

ډيره مهمه قاعده : "چيرې ستا سره داسې سلاح وي چې کولای شې هر هدف په پوره دقت سره وولې نو ته فقط يوه شي ته اړتيا لرې هغه د دښمن د ځای پيژندلو ته او بس".

نو که ته په داسې ځمکه او ساحه کې جنګ کوې چې هلته د هوا په فضاء کې جاسوسې طيارې موجودې وي او دقيق هدف هم ولي، نو ستا د دښمن اولنی پلان به دا وي چې ستا ځای ځانته معلوم کړې، او دوهم پلان يې بيا ويشتل دي، نو د همدې وجې نه ستا مهم هدف بايد دا وي چې ته خپل ځای پټ وساتې، او د همدې ځای نه د عصري جنګ تول راز او قصه شروع کيږي، اوس په جنګ کې د خپل ځای پټ ساتل او جنګ کول دا بيا د جنګ طريقه او پلان کې بنيادي تغيراتو ته اړتيا لري ، او دا هغه څه دي چې نه تنها د امريکايي طيارو په مقابل کې کامیابه تګلاره ده بلکې د روسي الوتکو په مقابل کې هم نتيجه ورکوي، روسي الوتکې اګر که ډير دقت ته اړتيا لري خو دومره ده چې بيا د ډيرو بمونو د اورولو له پلوه له امريکايي طيارو څخه کمې نه دي. يو دقيق وار کول چې هدف وولې دا له زرو اټکلي غير دقيقو وارونو سره اندول او برابر دی، د همدې وجې نه د دواړو ډولونو طيارو څخه حفاظت او وقايه په اساس کې فرق نه لري ، اساسی شروع د تل لپاره دا ده چې : "داسې جنګ کول چې دښمن ستا ځای معلوم نشي کړای او که چيرې دښمن ستا ځای معلوم کړ زر تر زره د ځای بدلول".

## دښمن هم همدارنګه ترقي کوي

دښمن هم چې کله پوه شو چې د خلافت مجاهدين خپل توپونه او خپل ځانونه له طيارو څخه پټوي نو دوی هم په خپل کار کې د پرمختګ په فکر کې شول تر څو د طيارو مهمولی په جنګ کې له لاسه ورنکړې، نو د طيارو تعداد يې زيات کړ. همدا رنګه دښمن د جنګ نويو قواعدو کې يوې بلې مسئلې ته هم متوجه شو. د PKK مرتدين به داسې وو چې هميشه به يې کوشش کولو چې ځمکه د ځان سره تينګه وساتي او په هيڅ قيمت به يې ځمکه نه خوشې کوله ، حتی له يوه کلي څخه به هم نه په شا کيدل ، خو کله به چې حمله ورباندې وشوه او ځمکه به يې له لاسه ووتله نو دوی به هم شروع شول د بيرته نيولو دپاره به يې تعرضونه کول او ډلې ډلې عسکر به يې د ځمکې د بيرته نيولو دپاره را مخې ته کول، او مجاهدينو به هم درانده ځاني تلفات

ور اړول، نو بیدې وخت کې به طیارو هم په پوره دقت سره کار نه شو ورکولای.

مجاهدینو به هم د بعضې ځایونو د بیرته تر لاسه کولو دپاره همدا اشتباه تکراروله د خپلو بعضو ساحو د بیرته تر لاسه کولو دپاره به یې تلفات ورکول بغیر لدې چې د مرتدینو یوه پیاده تن ته به هم مرګ ژوبله نه اوښته. نو صلیبي دښمن د خاصو قواوو په روزنه باندې شروع وکړله چې ترڅو وکولای شي د مجاهدینو په وړاندې د طیارو څخه استفاده وکړي، نو خپله امریکایان ځمکې ته په لوی تعداد را کوز شول ترڅو په ځمکه باندې د مرتدینو غبیانو څخه قیادت په خپل لاس کې واخلي. نو همدا ځای وو چې په دې نوې جنګ کې نوی فصل شروع شو.

## مونږ سره څرنګه جنګیږي؟

هغه خاص ځواکونه چې د PKK مرتدینو او صلیبي ځواکونو به جنګ ته را مخکې کول دا اصل کې په هیڅ شکل د اشکالو سره د دوی د جنګ قوه نه وه بلکې دوی به هغه قوه وه چې فقط طیارو ته به یې رهنمایي کوله، او هدف به یې دا وو چې طیارې را وغواړي او هغوی ته معلومات ورکړي چې کوم ځای باید طیارې دقیق وولي، د همدې وجې نه د دې مرتدینو د ځواکونو د اولنی جوپې سره بغیر له سپکې وسلې او هغه حقیقي وسلې څخه چې هغه د اتصالات او د لیزر د توجیه کولو دستګاوې دي نور څه نه وي، اما نوره د اور والا اسلحه چې دوی استعمالوي دا فقط د دې د پاره چې دوی د دې په خاطر مجاهدین د جنګ دپاره ځان ته را مخکې کړي، مرتد ځواکونه همیشه د دوکې دپاره رامخکې کیږي، او فیرونه فقط د دې په خاطر کوي چې مجاهدین د خپلو پټو ځایونو څخه دوی د پاره را ووځي او په مرتدینو باندې ډزې وکړي، نو بیدې وخت کې طیارې خو تیارې د همدې دپاره ګرځي چې د دوی ځایونه ځان ته معلوم کړي، او تر هدف لاندې یې ونیسي، او یا هم مرتدین د مجاهدینو د ځایونو کوردینات طیارو ته د بمبارولو دپاره ورکړي.

په دې وروستیو کې ددې قواوو یو تن اسیر کړل شو ، چې د ده سره د سلاح د عادتې دوه شاجوروونو څخه پرته نور هیڅ شی هم نه وو، نو کله چې د ده نه د دې پوښتنه وشوه نو ده بیا وویل چې مونږ خو څه جنګ کولو دپاره نه یو، بلکې فقط په اول خط کې د مجاهدینو د ځایونو د تعینولو دپاره راځو، او دا کار بیا ډیرو مرمیو او ذخیرې ته اړتیا نه لري، نو دوی د جنګ دپاره نه دي.

نو د همدې وجې د مجاهدینو تر تولو لویه تیروتنه دا ده چې له دوی سره داسې معامله کوي لکه د جنګ د تعرضي ګروپ سره چې کیږی ، بلکې دا اصل کې هغه سپک او ذلیل ځواکونه دي چې صلیبیان یې داسې استعمالوي لکه د ماهي د نیولو دپاره چې کوم خوراک ښکارې ور وړاندې کوي، نو مجاهد ته په کار ده چې دا

خوراک هیڅکله تیر نه کړي، تګلاره باید دا وي چې مجاهد خپل ځای او موقیعت هیڅکله هم دښمن ته تر هغه ور ونه ښیي تر څو دښمن د الله په اذن سره ښه سم وار ته نه وي برابر شوی. په داسې وخت کې بیا مجاهد ته په کا رده چې همدوی تر خپل هدف لاندې ونیسي ، او بیا زر تر زره خپل ځای هم تغیر کړي.

د دې په خاطر چې دا کار پوره کامیاب شي نو مجاهد ته په کار ده چې پوره متوجه وي او د دوی په دام کې ونه لویږي ،او د لرې ځایه د دوی په دزو کولو سره دوکه نه شي. همدا رنګه باید د اول خط دپاره نوي ځایونه تیار په نظر کې نیول شوي وي او د همدې پخوانیو ځایونو څخه هغې ته د تللو او ستر او اخفا لاره هم تیاره په نظر کې نیول شوې وي، ترڅو په آسانی سره وکولای شي چې د پخوانیو لیکو څخه نویو لیکو ته چې مخکې له مخکې تیار کړل شوي وي انتقال شي.

د دښمن دا تګلاره چې مونږ تشریح کړه نن ورځ دوی ورته "الاستطلاع الناري" (د معلوماتو ترلاسه کولو دپاره دزې) وایي. دا داسې اصطلاح ده چې مطلب یې دا دی چې د دښمن د ځای د معلومولو دپاره چې معلوم نه وي ته دزې وکړي، ترڅو د هغه له خوا ځوابې کړنه وکوري، او بیا ځای یې تعین کړي او تر هدف لاندې یې راولي،نو مجاهد ته لازمه ده چې پدې نویو جنګونو کې چې دی جنګیږي پدې چلونو باندې ښه پوه وي، ځکه چې په دې چلونو باندې پوهه اصل کې د الله په توفیق سره د همدې نویو جنګونو دپاره کلی (چابی) ده. په دې نویو جنګونو کې چې ډیره دقیقه اسلحه پکې کارول کیږي تول طرفونه کوشش کوي چې مخامخ جنګ ونه کړي، دا د همدې په خاطر چې ځاني تلفات را کم کړي. نو ځکه هم دا "الاستطلاع الناري" (د معلوماتو ترلاسه کولو دپاره دزې) په کثرت سره استعمالیږي، دا دوکه ده چې تول یې د دې دپاره کاروي ترڅو د دښمن د موقیعتونو کوردینات ځان ته معلوم کړي او بیا یې په توپونو او طیارو باندې او حتی استشهادي برید وریاندې ترسره کړي. یقینا چې ستا د دښمن د ځای معلومول دا دښمن اړوند اولین او تر ټولو مهم عسکري معلومات شمیرل کیږي ، او هیڅ کامیاب عسکري عمل بغیر د دې پلان څخه ممکن نه دی چې ترسره شي.

نصیري دښمن د اور په مټ د معلوماتو لاسته راوړلو لپاره د وهمي او خیالي تیزو جنګونو څخه استفاده کوي، ترڅو ځان ته د موجوده قوت اندازه ، د اسلحې څرنګوالی، معلوم کړي بیا د هغه نه وروسته پدې سیمه باندې د حملې دپاره خپل مناسب قوت برابروي.

د اسلامي دولت مجاهدین بیا یوه وره د کارک څخه جوړه کړل شوي بې پیلوټه جاسوسي الوتکه د دوی سیمې ته ور ولیږي، بیا د طیارې ارتفاع ورته کموي کموي تردې چې د دښمن عسکر یې غبرګ واوري، بس دا کار په دې سیمه کې د دښمن د اسلحې د پیژندګلوي

دپاره کافي او بس دی، نو د تصویر له مخې کولای شې چې ته هر هغه سلاح او د هغې ځای او نور هغه شیان وګورې چې د راتلونکي غزوې دپاره تاسره مرسته کوي، او یا دا چې د دوی د راتلونکي حملې د مخنیوي دپاره ته پوره تیاری ونیولی شې.

او دا معلومات راغونډول بیا د اور په مټ معلوماتو راغونډولو ته هیڅ اړتیا نه لري، بلکې دا دوی ته د یوه خطر احساس ورکوي او بس، نو زر به مرتدین د خپلو سورو څخه را ووزي او د دې کوچنی الوتکي په لور به په ډزو شروع وکړي هغه چې د دوی ټولو او د دوی د ټولو اسلحو د ډولونو سره تصویر ترې را اخلي، نو د سلاح تعین د هغې د خولې د دایرې د پراخوالي، لمبې، او د غږ څخه معلومیږي، او دا پلان که چیرې ځرګند هم شي نه ناکامیږي ځکه چې د دوی اکثریت عسکر به ځان پټولو کې نه دي تربیه شوي، او پدې هم نه پوهیږي چې دا څومره دوی ته تاوان کوي چې مونږ د دوی د اسلحو انواع او ډولونه او موقیعتونه وپیژنو، او پدې هم نه پوهیږي چې د دوی سره د جنګ په ډګر کې زموږ په کړنه کې له موږ سره څومره مرسته کوي.

## څرنګه ورسره وجنګیږو؟

نو مجاهده وروره! کله چې په جنګي چل او حربه باندې پوه شوې نو بیا تاته په کار ده چې دې مخکینې تکراري دام کې راګیر نشې، نو د طیارو او یا هرې دقیق هدف ویشتونکې اسلحې په موجودیت کې دا طلایي قاعده درسره ښه پخه زده کړه چې: "د دښمن هدف دادی چې ستا ځای معلوم کړي، او د مجاهد هدف دادی چې دښمن داسې وولي چې دده ځای معلوم نشي".

او مخکې په (النبأ) مجله کې دا مقاله نشر شوه چې د ستر او اخفاء، د دښمن له خوا د تصویر اخیستلو ټولو ډولونو تشریح، او هم د هغو د ټولو ډولونو څخه د ځان پټولو لارې چارې پکې تشریح شوي وې.

نو د همدې وجې په اولو لیکو کې داسې پلان په کار دی چې په هغې کې د مجاهدینو د ځایونو د پټ والي ښه لحاظ شوی وي، او دا ضروري ده چې هر څومره ممکنه وي د مجاهدینو د ځایونو په پټوالي کې باید هیڅ نوع سستي څخه کار وانه خیستل شي، بلکې مجاهدینو ته د ډوډۍ خوړلو د وختونو تعداد، او د نقطو او ځایونو تر منځ د ورلو را ورلو کموالی، او د رباط ټولې نقطې په داسې شکل جوړ شی چې د مجاهد د هغې څخه وتلو ته اړتیا را نشي، دا او نور دې ته ورته کارونه دا ټول د اعداد او تیاري څخه شمیرل کیږي، هغه چې یو مجاهد یې د الوتکو د خنثی کولو او -که د الله خوښه وه- په جنګونو کې د طیارو د رول د ختمولو دپاره باید واخلي، تنها زړورتوب دا د طیارو په حل کې کار نه ورکوي،کله چې مونږ د طیارو په لاندې جګړه کې مونږ پوره تیاری او کړنې نه ترسره

کوو نو بیا تنها شجاعت او زړورتوب د ټولو مشکلاتو پوره حل نه شي کیدای.

په جنګونو کې یو د مرکونو غلطیو څخه داده چې لوی تعداد باندې جنګیالي په هغو اولو لیکو کې چې د دښمن سره په تماس کې وي په یوه ځای باندې راغوند شي، ځکه چې د دقیق هدف ویشتونکو طیارو په وړاندې لوی تعداد او کم تعداد کومه کټه نه رسوي بلکې دښمن همیشه د جنګ وخت ته انتظار باسي تر څو دا ځرګند ځایونه او نقطې په ځمکه باندې د پرمختګ څخه مخکې وولي، نو په دفاع کې ددې طریقې څخه کار اخیستل نه دي په کار، دا خبره د مخکې نه ثابته شوې ده چې ورروسته له دې چې طیارې د جنګ ډګر ته داخلې شوې دي هغه څه چې - د الله په اذن سره - کټور دي هغه دا چې مونږ خپله دفاع کونکې قوه او ځواک باید په اولو لیکو کې پټ وساتو ، نو طیارې به هغه نشې ویشتلی، تر دې چې کله دښمن سره لاس او ګریوان شئ مطلب ستاسو وار ته برابر شو او بیا په هغه وخت کې نو طیارې مداخله نشي کولای، خصوصا کله چې دفاع کوونکې تر هغه پورې انتظار وکړي چې دښمن ډیرې نیږدې فاصلې ته ورته را ورسیږي مخکې لدې چې دوی سره تا د جنګ شروع کړی وي نو بیا دې وخت کې طیارې د مجاهدینو او دښمنو د ګډوالي له وجې مداخله نشي کولای، ځکه چې د مجاهدینو د ځایونو معلومول او د دښمن د ځای معلومول وخت نیسي نو کله چې مجاهدین په پوره احتیاط سره خپل حرکاتو ته متوجه وي او دوامدار یې مراعات کړي نو د الله په اذن سره طیارې بیا دوی نشي ویشتلی.

ترټولو ستره خطاء او غلطي په داسې جنګ کې چې هغې کې طیارې وي دا ده چې ته تنها ځمکې ته متوجه وې او دا خبره دې هیره کړې وي چې جنګ تنها په ځمکه نه دی بلکې ستا دښمن دا توانایي لري چې تا له پاسه هم وولي، د مثال په ډول : کله چې مونږ د دښمن څه ځواک تر محاصرې لاندې راوستلی وي، مثال په یوه ودانۍ او یا په یوه کور کې نو پدې وخت کې دښمن له طیارو سره د هغو ارتباطي آلاتو له لارې اړیکه ټینګوي چې دوی یې له ځان سره وړي، نو پدې وخت کې طیارو ته په ښکاره ډول معلومیږي چې کوم ځای ویشتل په کار دي، نو بیا پدې وخت کې اګر که د مجاهدینو او د دښمن تر منځ څومره فاصله لنډه هم وي طیاره یې ولي، نو په داسې حالاتو کې مجاهد ته لازمه ده چې پدې خبره پوه شي چې که محاصره کړل شوي دښمن فورا ویشتلی نه شي نو ده ته په کار ده چې خوشی یې کړي او لاړ شي پټ ورته کیني او د نوي ځای په لټه کې شي چې بل داسې ځای ورته پټ شي چې ناڅاپه ورباندې حمله وکړي، نو بیا پدې حالت کې د دوی محاصره ساتل د مجاهدینو په ګټه نه دي، ځکه چې که چیرې ته دوی محاصره کوې او ځان

طیارو ته ښکاره کوي نو طیارې خو په داسې حال کې خپل عسکر او مجاهدین پیژني او د خپلو عسکرو هغه ځای ورته معلوم دی چې دوی غواړي د هغې ځای څخه یې ژوندي وباسي، نو بغیر له خپلو عسکرو څخه بل هرڅوک ولي.

او په آخر کې دا قاعده ښه زده کړه چې: " دوی هر کار د دې د پاره تر سره کوي چې ستا ځای ځانته معلوم کړي نو ته هر هغه څه چې د دوی د نظر او سترګو څخه د خپل ځان د پټ ساتلو دپاره ستا په وسه کې وي ترسره کوه".

والحمد لله رب العلمين

دوی هر کار  د دې د پاره تر سره کوي چې ستا ځای ځانته
معلوم کړي نو ته هر هغه څه چې د دوی د نظر او
سترګو څخه د خپل ځان د پټ ساتلو دپاره ستا په وسه
کې وي ترسره کوه


مؤسسة المناصر الإعلامية

رجب ۱٤۳۹ هـ